د افغانستان اسلامي جمهوريت
جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان د ځمکو اداره
اداره اراضی افغانستان

Islamic Republic of Afghanistan
Afghanistan Land Authority

# مطبوعاتي اعلاميه

---

## د هېواد په کچه څه د پاسه یو ملیون او دوه سوه زره جریبه دولتي ځمکه سروې شوي

د افغانستان د ځمکو ادارې په وروستیو شپږو میاشتو کې د دولتي ځمکو بانک له لارې د یو ملیون او ۲۸۲ زره او ۳۱۷ جریبه ځمکې سروې چارې پای ته رسولې.

دغه لړۍ د جلالتمآب جمهور رئیس د ۲۲ حکم له مخې د روان کال د وري په اتمه د هیواد په ۲۸ ولایتونو کې پیل شوې او د شپږو میاشتو په ترڅ کې دغه اندازه ځمکه سروې شوې ده.

له یادې شمېرې څخه ۱۵۸۸۲۰ جریبه په پلازمېنه کابل، ۱۱۵۵۹۹ جریبه په بلخ، ۱۳۱۷۹۹ جریبه په نیمروز، ۵۹۹۳۰ جریبه په پکتیا، ۵۲۵۸۱ جریبه په کندهار، ۷۲۵۸۷ جریبه په لغمان او پاتې ۲۸۲۹۲۱ جریبه نور هم په ۲۲ ولایتونو کې سروې شوې دي.

د دولتي ځمکو بانک د ځمکوالۍ چارو تنظیم قانونلسمې، یوولسمې او دولسمې مادې له مخې او د جلالتمآب جمهور رئیس د حکم سره سم د افغانستان د ځمکو ادارې له خوا جوړ چې موخې یې د دولتي ځمکو او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونو سروې او ثبت، د خصوصي سکتور د پانګې جذب، د حکومت د اقتصادي، پراختیایي او ټولګټو پروژو د پلي کېدو، د کاري فرصتونو او د ملي عوایدو زیاتېدل دي.

د افغانستان د ځمکو اداره په پام کې لري چې د ۱۳۹۷ لمریز کال تر پایه دوه ملیونه جریبه دولتي ځمکه او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه سروې او په سیستم کې ثبت کړي.

-----------------------------

حشمت ناصري – د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس
د افغانستان د ځمکو اداره
مبایل: ۰۷۷۸۱۱۱۳۸۵
برېښنالیک: Hashmat.nasiri@arazi.gov.af

---